سرلوڅ مرادزی ۲۰۲۲ / ۱۲ / ۱۲

# قمرګل د خاطرو سندرغاړې

زه لا ښوونځي ته نه وم تللی. د لمريز ۱۳۳۰ لسيزې د پيل کلونه ول. کلي کې د ديوال شريک ګاونډي چې زموږ خپلوان هم کېده، واده وو. زه د څو نورو همزولو سره زموږ د کور د يوې کوټې پر بام ناست وم او لاندې مو د ګاونډي د کور په حويلۍ کې د واده د مراسمو ننداره کوله. نرې باران ورېده چې ډېر مزاحمت يې نه کاوه. د ګاونډي د حويلۍ په يوه سرکې ښايسته لويه چوتره وه چې د موسيقۍ ارکسترا پرې ولاړه وه. هنرمندانو سره ارمونيه، دوه سره ډول، طبله او سورنۍ وو. سندرغاړی چې نوم يې راڅخه هېر دی، دا سندره ويله:

**سالوګی مې لمدوينه، نازکو**
**په څنګ جينکو، ميده باران دی**

په حويلۍ کې سندرې ته بې توپيره نارينه، ښځې، هلکان او نجونې يو ځای ناڅي او يوه مسته او توده موسيقي ده چې موږ ماشومان ورته پاس د بام پر سر چکې کوو. زموږ د کلي ملا امام هم چې موږ ورته ملاکاکا ويل او زموږ تره کېده، د خپل کور د بام پر سر د موسيقۍ او نڅا ننداره کوله.

زه چې کله په ۱۳۶۲ کال د يو تحصيلي بورس(scholarship) له لارې اروپا ته راغلم او دلته مې د لومړي ځل لپاره ډېسکو ولېده، ما ته ۳۰ کلونه مخکې د خپل کلي ډېسکو رایاده شوه.

شاوخوا دوه لسېزې وروسته مې د ميرمن قمرګل په خواږه اواز کې د خپل کلي د ډېسکو هغه پخوانۍ سندره بيا واورېده او زړه خاطره يې تازه کړه.

د قمرګل ډېرې سندرې سږي ته د ژوند د يوې برخې خاطره وريادوي او په همدې لحاظ، قمرګل د خاطرو سندغاړې بولم.

اروا يې ښاده او ياد يې تلپاتې!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ